د افغانستان اسلامي امارت

**د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت**

**د دفتر عمومي رياست**

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د دفتر عمومي رياست
د صادرې مهر : ۱۴۴۵ نېټه ۱۴۴۷/۴/۱

**نېټه: / /۱۴۰۴** **ګڼه:**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

**د کابل محترمې ښاروالۍ ته!**

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

**موضوع: له عارض شرکت سره د بيټريو او سولر سيستم د توليدولو فابريکې د جوړولو په تړاو له نوبت پرته د اداري چارو په برخه کې د همکارۍ په اړه**

د عظيمي افغان په نوم د بيټرۍ د توليد فابريکې رئيس ښاغلي حاجي محمد رفيع عالم د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت ته په کړې عرضپاڼه کې ليکلي چې د کورني صنعت د ودې، د ملي توليداتو د پياوړتيا، د پاکې انرژۍ د پراختيا او د کاري فرصتونو د ايجاد په موخه يې د کابل ښار په پلچرخي سيمه کې شاوخوا (۳۴،۰۰۰) متره مربع ځمکه د نوموړې فابريکې د جوړولو لپاره اخيستې ده. يادونه يې کړې چې د فابريکې لپاره يې (۶۰) کانټينره تجهيزات هېواد ته د لېږد په حال کې دي، خو د ساتنې، ترتيب او تنظيم لپاره يې احاطوي دېوال او نور تاسيسات نه لري، د احاطوي دېوال او د فابريکې ودانۍ د جوړېدو لپاره يې د اجازې غوښتنې کړې ده.

په دې اساس يې عرضپاڼه او اړوند (۹) پاڼې اسناد له دې مکتوب سره مل له تاسې سره شريکېږي او د کابل له محترمې ښاروالۍ، د صنعت او سوداګرۍ له محترم وزارت او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د محترم وزارت اړوند د اراضۍ له محترم عمومي رياست څخه هيله کېږي، دا چې ياد شرکت د ديرش ميليونه امريکايي ډالرو د پانګونې هوډ لري، خو فعلاً له اضطراري حالت سره مخ دی او د فابريکې تجهيزات يې هېواد ته د لېږد په حال کې دي چې د خوندي کولو لپاره يې مناسب ځای نه لري، له نوموړي شرکت سره د بيټرۍ او سولر سيستم د توليد فابريکې د اعمار چارو د پيل لپاره له نوبت پرته د اداري چارو د طی مراحل په برخه کې اصولي همکاري وکړي. والسلام

**دېره مننه**

**مولوي عبدالله عزام**

**د رياست الوزراء د اقتصادي معاونيت**

**د مقام د دفتر عمومي رئيس**

کاپي:

د صنعت او سوداګرۍ محترم وزارت

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ محترم وزارت

د پلان، پاليسي او حقوقي چارو محترم رياست

پته: صدارت - مرمرينه ماڼۍ - د ملک اصغر څلور لارې - کابل - افغانستان Address: Sedarat Marmarin Palace - Malik Asghar Square - Kabul - Afghanistan

اړيکې شمېره: 0202105504 Contact number: 0202105504

Sharifullah

۱۴۴۷/۳۰